مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال
۲۰۲۴/۰۳/۱۷

# افغانستان په یوه پیړۍ کې

## امیرحبیب الله سره، د انګریزانو اړیکې

## باچا خان ته د لیاقتعلی خان پیغور

## ۳خپرکی

د امیر عبدالرحمن خان له مرګ نه وروسته زوی حبیب الله خان د پاچا هی په تخت کېناست.
پلار یې عبدالرحمن خان د «نقرس» د ناروغی له کبله په ۱۹۰۱ ز کال په باغ بالا ییلاقي مانی کی له دې نړۍ سترګي پټي کړې. ولي خپل زوی حبیب الله خان ته یې داسي له ستونزو او کړاوونو ډک هیواد پرېښود چي زندانونه له خلکو ډک ول، ښوونځیو شتون نه درلود، د روڼ اندو ستوني مروړل شوي ول، په کور دننه یو شمېر کورنی له یوی سیمي نه بلي سیمي ته شړلي شوي وې. ډېرو کسانو د امیر له وېري هیواد پرې ایښی وه... او په سلګونو داسي پېښي یادولی شو چي په یادولو یې د هر انسان زړه خواشینی کېږي. ولي یو څه چي د امیر حبیب الله خان واک ته په میراث پاتي ووهغه په ټول هیواد کي بشپړ امنیت وه. کله به چي یو بهرنی افغانستان ته را ننوت لکه د هدیرو وطن هیڅ غږ وغوږ او شور و زوږ نه او رېدل کېده.
د امیر حبیب الله خان د واک په مهال داسي نړۍ والي او سیمه ییزي پېښي مینځته راغلي چي د نړۍ د ډېرو هیوادونو سیاسي او جغرافیوي څېره یې بدله کړه.
د لومړی نړی والي جګړې پېښېدل (۱۹۱۴ – ۱۹۱۸ کال) چي پېښو یې په ټولي نړی سیوری و غوړوه. که څه هم افغانستان بې پرې پاتي شو ولي بې اغېزې پاتي نشو.
د افغانستان په ګاونډ روسیه کی د (۱۹۰۵) او ۱۹۰۷ کلونو پاڅونونه او په پای کی د ۱۹۱۷ ز پړدي کال د اکتوبر انقلاب یو د بل پسي تاریخي پېښي وې چي په نړی او افغانستان یې رغنده اغېزه وښندله.
د برېتانوي هند په سیاست کي هم یو ژور بدلون مینځته راغی. په ۱۹۰۱ ز کال د ویکتوریا مرینه چي له درېشپېټه (۶۳) کالو پاچاهي وروسته ومره چي په ټولواکمنی کي یې لمر نه ډوبېده.
د لیبر ګوند (Labour) او محافظه کار ګوند (Conservative) تر مینځ سیالی چي د لیبر مشر «ګلادستون» او د بل یې «دیزرایلي» وو، دوی د برېتانوي هند سیاست او په ځانګړي ډول د افغانستان د نوي واکمن په ټراو د دوی پالیسي چي لارډ کرزن (دهند وایسرای) پر مخ وړله، باید امیر نوی ټرون ته را کاږي دا ځکه چي روسانو د کسپین سمندرګي یا د «خزر» سیمي ته د رېل پټلی را رسولي وه، هغسي خو هم انګرېزانو د کوېټي پوری د رېل لیکه غځولې وه، له بده مرغه چي افغانستان د دوه سترو ښکېلاکګرو په مینځ کي داسي را ګیر شو چي هره ګړی تر ګواښ لاندې وه.
روسانو د خپل ځواک د پیاوړتیا لپاره امیرحبیب الله خان ته وکاږل چي د ۱۸۸۰ ز کال ټرون له سره باید نوی شي.
امیر له ډېري ناچارۍ ورته وویل کومه پرېکړه چي د روسانو او انګرېزانو تر مینځ شوېده زه پرې ډاډه یم او که چېري بیا هم دوی وغواړي زه یې په دې ټراو پرېکړي ته درناوی کوم. لوماکین چي د مخه یې ماتي خوړلي وه، دوه کاله وروسته ۱۸۸۱ کال جنوري کي مروه د خراسان پلازمینه. چي روسانو غوښتل چي د افغانستان برخه شي د نیولو تکل وکړ، چي بیا روسیي په ۱۸۸۲ کال د کرښي د ټاکلو وړاندیز وکړ. هولډیچ د پولو په ټاکلو کي بیا رول درلود. هلته لارډ کرزن په ۱۹۰۲ ز کال یو ځل بیا (جون کي) امیر ته بلنه ورکړه چي هند ته راشي.
د پاچاهی په سر کي (فبروري کي۱۹۰۱) هم ترې ورته غوښتنه کړې وه خو امیر ورته د ګیلي په توګه وویل چي د تاسو د ملکي (ویکتوریا) او زما د پلار (امیر عبدالرحمن خان) له مرګه لا ډېر وخت نه دی اوښتی چي له مانه د تېرو ټرونونو په ټراو غوښتنه کوئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

څرنګه چي تېر تړونونه په سرکي د ګندمک او ډیورنډ موافقه لیکونه د دوه کورنیو تر مینځ چي دولتي او حکومتي بڼه یې نه لرله لاسلیک شوي ول. بسېنه او مرسته چي له سلطنتي کورنۍ سره (یا د اجارې په نوم) کېده لارډ کرزن پربکړه وکړه چي و سلې په شمول دا ټول پرې بند کړي.
په دې سره امیر حبیب الله نور هم خواشینی شو نو تر هغې چي لارد کرزن د هند وایسرای وه هندوستان ته سفر ونه کړ.
نوموړي هغسې هم یو شپږ (۶) فقیریزه وړاندیز چمتو کړی وه چي په نوي امیر یې وتپي لکه:
– د ډیورنډ تړون ته بیا کتنه چي ان کندهار یې هم ګواښه.
– افغانستان ته د وسلې د لېږلو شرط او د کارونو څارنه.
– له قبایلو سره په نه مرستې ټینګار.
– د برېتانوي پوځیانو د یوې ډلې ګمارل چي د روسانو برید له نږدې څخه وڅاري... او نورې دا ډول غوښتنې.
له دې پرته کرزن پدې هم ټینګار کاوه چي د ۱۸۸۰ ز کال تړون چي د امیر عبدالرحمن خان او «ګریفن» تر مینځ د لیکونو په بنسټ ترتیب شوی وه شخصي بڼه لرله.
د امیر عبدالرحمن خان له مرګ نه وروسته دغه تړون د باور وړ ندی.
د کرزن دغه یادونه دا ښیي چي (د ګندمک او د ډیورنډ د تړون په ګډون) ټول هغه تړونونه چي د اشخاصو تر مینځ لاسلیک شوي دي د باور وړ نشو ګڼلی، چي دا کار د امیر حبیب الله په واکمنۍ کي هم وشو.
په دې اړه تاریخي اوحقوقي ارزوني ته تم کېږو:

۱ ــ لوې لوبې اوسړې جګړې دافغانستان ملا ماته کړه .
۲ ــ پر افغانستان دبرتانوي هند برید...
۳ ــ دسکانولمسول اودوزیر محمد اکبرخان له خوا په جمرود کې دهري سنګ وژل.
۴ـــ دپېښورله نیولووروسته درنجیت پر ضددامیر دوست محمددجهاد اعلان .
۵ـــ دروسي استازي ویکتویچ دکابل په بلا حسار کې امیر ته ووېل،چې سکانو دافغانستان خاوره اشغال کړه اوروسیه به له افغانستان سره په دې اړه مرسته وکړي .
۶ـــ لارداکلینډپه دې تړاوبرنس هند ته وغوښت .
۷ ـــ رنجیت سنګ چي له امیردوست محمدخان نه ویره درلوده له انګریزان سره هرډول مرستي ته چمتو و .
۸ـــ دانګریزانو دعیاشي پر وړاندي دعبدالله خان اڅکزي پاڅون دبرنس،دده دورورچارلس اودکپتان برادوژنه ،چې دانګریزانودکسات لامل سو...خود«مارتیمر ډیورنډ» دخپل پلارهنري ډیورنډپه اړه خپل کتاب کې یادونه کړې ده اوشاه شجاع یې فراري باچا بللی دی خوداسې ویل کېدل چې پلار یې له کابله تښتېدلی و ...
۹ـــ دروسي له خوادخوقند،خیوې ،مروې اودیوشمېرنوروسیمو نیول برتانوي هندلا ولمسوواوافغانستان یې ترګواښ لاندې ونیو.
۱۰ـــ دافغان وانګلس ۲جنګ،دګندمک تړون لاسلیک ،رابرتس ویل افغانستان باید تجزیه شي،ولي افغانان په ځانګړې ډول پوخ دروشان،شغنان اوواخان په اړه دهغه تفاهم ضد ول چي په ۱۸۷۳له روسي سره وشو،داځکه چي دبدخشان برخه وه . ولي روسانو ویل چي په ۱۸۴۳کال په دې اړه یوه موافقه موجود ده ... خو بیاهم په هند کې واې سراې امیر ته ووېل چي له هغه ځایه خارج شي . خوامیر عبد الرحمن خان بیاهم شغنان اوروشان ترخپلواک لاندې وساتل
.
۱۱ ـــ دهندوایسراې لایتون غوښتل چي جنرال رابرتس افغانستان ته واستوي،ولي څرنګه چي هغه دافغان انګلیس په جنګ کې ښکیل واوامیر ورسره ونه منله نوبیا درابرت پرځاې ډیورنډ وګمارل شواوځرخي غلام حیدر خان لنډي کوتل ته دده استقبال ته ورغي.
۱۲ـــ ډیورنډ په ۱۸۹۳ کال دجون په میاشت ،پخپله یادښتونوکې کاږي ،امیر نه غوښتل چي ټاکلي سیمي له لاسه ورکي،امیردسلا یادونه کوله ، ما ورته ووېل چي وسله ما دواسکټ په دجب کې راوړلی نه شوه .
۱۳--- امیردترتیب شوې نخشي خلاف واوداهم ویل شوې وچې متن په پارسي ولیکل شي ،خو دنوامبر په ۱۲مه انګلیسي متن دهغه مخته وړاندې شو،چې امضاې کړي .
ډیورنډپخپلویادښتونوکې ویلي امیر دشیرعلي خان له سرحداتوسره موافق نه واوترتیب شوې نخشه یې هم نه منله ، امیردچمن له لیکي غځولوسره هم جوړ نه واود۱۸۷۳کال دتفاهم په اړه یې ووېل،امیرشیرعلیخان احمق و .
۱۴ـــ ډیورنډدخپلو یادښتونو له مخې کاږلي دي،چې زما ماموریت په ښه توګه پرمخ نه ته اوهره ورځ نا امیده کېدم ... ولې بیاهم انجنر پیین دی ځغم ته هڅوه ... ورته ویلې چې امیریوازې دیکشنبې ورځ غیر مترقبه کارونه کوي...
۱۵ ـــ ډیورنډ وایي،دنوامبر ۱۲مه (۱۸۹۳)دومره موهمه وه،چي نه پوهېروځه وشول ؟په هغه وخت کې امیر ته سلطان محمد خان ډېر موهم وچې هغه هم هندي ونورهیڅ افغان پرته له برتانوي پلاوي نه په هغه دفتر کې ان داچې سلطان محمد هم نه و... داچې څه تېرشول لاتراوسه معلومه نه دهده خو کله چې پلاوی له اطاق نه ووت دوه لاسلیک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوي كاغذونه يې په لاس كې وو،چې يودافغانستان اوروس ترمينځ دسرحد سند واوبل هم هغه تفاهم نامه چې دسيمې دكنترول موافقه ليک په نامه نامتودی .

۱۶ ـــ ډيورنډ داخبره هم كړې چ له ماسره دوسلې برتانوي انجنرپيين چې دامير په دربار كې كار كا وه . دانګريزانودغه خبره هم له فريبه ډكه ده چې په ۱۸۷۶كال يې دخان قلات سره دبلوچستان موافقه كړې ده .

۱۷ـــ ولې « راجيودوګرا » پخپل كتاب Durand,s curseكې كښلي دي،« ډيورنډ چې دامير په دفير كې استوګ و اووې غوښتل چې ببړته «سملې» ته ستون شي دوكاغذونه يې چې يوسپين واو په بل كې نخشه وه داميرته ورغی ده په انګريزي ليكل اوامير ورته كتل،ځكه چې نپوهېده ... دايوخيالي سند دی اوهيڅوک نه پوهېږي چې دنوامبرپه ۱۲ مه څه پيښ شول .» (وګورئ ۱۶۹ ــ ۱۷۰ مخونه ) دوګرا داهم وايي چې ډيورنډد۷ اونېيو لپاره په كابل كې پاتې شو. (۱۸۵ مخ)

همدا لامل وه چې په ۱۹۴۹ كال د افغانستان د خلكو استازو په لويه جرګه كې ډلييزه توګه پرېكړه وكړه چې ټول هغه تړونونه چې له انګرېزانو سره په بېلابېلو وختونو كې لاسليک شوي دي لغوه ګڼل كېږي.

امير حبيب الله خان هم پدې خوابدی وه چې كرزن د ډيورنډ د كرښې پورې غاړې د هندوستان د شمال غربي ولايت پنوم يادې كړې چې پدې كې پنځه ولايتونه (پېښور، دېره اسماعيل خان، كوهاټ، بنو، هزاره) او پنځه سيمه ييز (شمالي او جنوبي وزيرستان، كورمه، خيبر او ملكنډ) حكومتونه شامل ول. د ۱۹۴۹ كال پرېكړې د هولډيچ او د ده په څېر د نورو كسانو هغه پرېكړې هم خپل ارزښت له لاسه وركوي چې د افغانستان طبيعي جغرافيه يې زيانمنه كړې ده، د ساري په توګه د هرات په نيمه لاره او د مروې په سوېل كې د پنجدې مهمه سيمه د بېلګې په توګه يادولی شو.

علي خانوف (دمخه عليخان) پخپله د پنجدې په لور د وړاندې تګ او د نيولو هڅې كولې. د خانوف د يرغل او بريد په مهال هولډيچ په پنجده كې وو. نوموړی په دې باور وه چې برېتانويان به د افغانانو ملاتړ ته را ودانګي، خو هولډيچ ته له سيمې څخه د وتلو امر وشو.

خانوف د هر انګرېز په سر ۴۰۰ روپيو جايزه وټاكله. ډيورنډ امير ته وويل، چې په دغه وخت كې هند كې وو يو بد خبر لرم، روسانو پنجده ونيوه.

امير ته د پام وړ خبره دا هم وه، چې انګريزانو په ۱۹۰۳ كال كې د «دابس» په نوم يو تن هرات ته واستاوه، چې د سرحدي پولو په تړاو تېرې ژمنې بيا راغبرګې او تكرار كړي؛ خو روسانو د ده وړانديز بابېزه وګڼه.

امير هم ورته په ځغرده وويل، په كومه لاره چې هرات ته راغلی يې په هماغه بېرته ووځه!.

كرزن شېړ ليكونه اميرته واستول چې هند ته ورشي. ولې په پای كې (په ۱۹۰۴ كال) خپل زوی عنايت الله خان له يوه پلاوې سره كلكتې ته واستوو او كله چې «سرلويس ويليام دېن» كابل ته راغی يو داسې تړون يې له امير سره لاسليک كړ چې د خپل پلار له ژمنو سره يې تړاو درلود. كه څه هم پلار يې اميرعبدالرحمن خان، د ډيوډلاين د څركندونو پر بنسټ:

هيڅكله هم د سليمان پرغرونو د انګرېزانو نفوذ ته غاړه نه وه ايښې. هغه تر اباسين پو رې له افغان پاچاهانو ورپاتې ځمكه د خپل هېواد سرحدي سيمه بلله. عبدالرحمن خان ډېورېنډ ته په يوه استول شوي ليک كې كويتې ته د اوركاړډې د پټلې تېرول يوه شرمه وونكې، غيرې ضروری او سر زوری كار بللی وو......امير ليكلی ول دايو داسې كار دی لكه زما په زړه كې چې چاړه تېره كړې. .. كه مو قبايل زما له واكه جلا كړل، زما او ستاسو ددواړو له ښې اوځي. عبدالرحمن خان د انګرېزانو له تمدن سره مينه درلوده. د ده د اولادونو ښونكی انګرېز وو، دغاښونو ډاكتر هم ايرلېنډی وو. پايني pyni دده د وسلو انجنيروه.[1]

هند ته دامير سفر

كله چې په ۱۹۰۵ كال دمارچ په ۲۱ نېټې تړون لاسليک شونو بيا امير دنوی وای سرای «لارډ منټو» په بلنه په ۱۹۰۶ ز كال (د ډسمبر۶ نېټه) د جلال اباد له لارې مخ پر هند وخوځېد چې د جنوري په دويمه (۱۹۰۷ كال) نېټه هند ته ورسېد.

كه څه هم اميرپه سركې د برتانوي هند له چارواكو ډير خواشينی وه او لاكله چې لارډكرزن ديوه تړون په تړاو ورته وكښل:

د (۱۸۸۰) ز كال تړون چې د اميرعبدالرحمن خان او «ګيرفن» تر منځ لاسليک شوی دی يوه شخصي بڼه لري چې دامير له مړينې ورسته دباور وړندی. نوی امير بايد نوی تړون لاسليک كړي.

حبيب الله خان نه يوازې د ده وړانديز رد كړ بلكې نصرالله حان ته يې سپارښتنه وكړه چې د افغانستان د بشپړې خپلوا كۍ لپاره ديو شمېر هېوادونو استازو (بريتانيه، المان، فرانسه،روسيه، امريكا،تركيه او ايران) سره وګوري.[2]

لارډكرزن له وېرې له خپل وړانديزنه پر شا شو. خوكله چې دی له خپلې دندې كوښه شو اميربيا دلاهور او اګرې له لارې د برتانوي هند پلازمينې كلكتې ته ورسېد او د چار واكو له خوايې دروند هركلی وشو. نوموړی پدې سفركې له ښځوسره په سات تېری روږدی شو...له دوه انګرېزو ښځو سره يې تار وغوځوه.[3]

اميرد خپل مېلمه پال (هانری مكماهن) په ملتيا د هند يو شمېر سيمې وليدې او د سوري شېرشا په كلا كې (نوی ډيلی) يوه جومات ته مخامخ يوه څاه وويسته او هم يې په لاهوركې ديوه ښوونځيد جوړيدو ډبره كېښوده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

ده له لارډ منټو او جنرال لارډ کچنر سره د افغان او بریتانیي ددوستۍ په تړاو اوږدې خبرې وکړې.
نوموړي له ټاکلي وخت نه ډېره موده په هند کې تېره کړه، او بیا د ممبیي له لارې کراچۍ او له هغه ځایه پېښورته راغی.
ډېوبډلاین کارې د ماسونیک د هوټل له میلمستیا نه وروسته پرېکړه وشوه چې امیر باید بېرته کابل ته واستوي. هند ته د امیر سفر دده په زهن کې ژور بدلون منځته راوړ. له نوي تمدن او پرمختګ سره اشناشو او کومه خوابدي او کرکه یې چې د انګرېزانو په وړاندې لرله دېته هوډمن شو چې ددوی دوستي ورته په ګټه ده، سره د هغې د ډېوېډ په اند لوي درستیز لارډکچنر ورته وویل که یې خبره ونه مني د سمندر په خطرناکو لارو یې کابل ته ولیږي.
امیر حبیب الله که څه هم له دې سفرنه د مخه له ښونې او روزنې سره مینه لرله. په ۱۹۰۳زکال یې د حبیبې ښونځي پرانست. له افغان ښونکو سربېره یو شمېر هندي او ترکي ښونکي هم په دندو و ګمارل.
کله چې امیر هېوادته راستون شو، لارډمنټو د یوه لیک په ترڅ کې د برېتانیې او روسیې د تړون هغه پرېکړه لیک چې په ۱۹۰۷ کال د دواړو هېوادونو داستازو په ګډون کښل شوی وه، امیر حبیب الله خان ته را واستوو چې امیر یې باید پرته له ځنډه لاسلیک کړي.
د روسیې او انګلیس په دغې پرېکړه کې چې د افغانستان، ایران او تبت د هېوادونو په تړاو وو، دغه ټکی پکې رانغاړل شوی ول:
د ایران هېواد په دری برخو وېشل شوی وه چې شمالی برخه یې باید د روسیې تر واک او نفوذ لاندې وي. دایران شرقي او جنوبي برخه باید د انګریز د واک او ځواک سیمه وګڼل شي، او مرکزي برخه باید دیوې بیطرفې سیمي په نوم یاده شي.
کله چې ایرانیان له دغي پرېکړي خبرشول دواړو هېوادونو په وړاندې یې سخت غبرګون وښود.
د تبت د هېواد په اړه دواړو غاړو داسې ژمنه کړې وه چې په دغه خاوره کې به له خپل ځواک او واک نه کار نه اخلي او دا سیمه یې د چین برخه و بلله، دافغانستان په تړاو:
لومړی افغانستان د روسیې د نفوذ سیمه نشو ګڼلی یوازې دافغانستان اړیکې د انګرېزانو له لارې ټینګېدلی شي او بس، له دې سربېره انګرېزان د ۱۹۰۵ کال تړون له مخې لوړه او ژمنه کوي چې دافغانستان په کورنیو چارو کې به لاس وهنه نه کوي.
روسیه او انګلیس کولی شي د افغانستان په سودګریزو چاروکې برابره ونډه ولري. په پرېکړه لیک کې دا هم راغلي ول:
هغه مهال دا تړون عملي بڼه خپلولی شي چې د افغانستان د امیر لاسلیک د روسیې چار وواکو ته وښودل شي.
امیر د بېلابېلو پلمو له مخې په یوه اوبله خبره ځان تېراوه او برتانوي چارواکي هم په دې پوهېدلي و نو ځکه خو دبرتانیې پارلمان په دې هکله غونډه وکړه او لارډمنټو ته یې سپارښتنه وکړه چې ډېر ژر دامیر نیت ځانته مالوم کړي.
امیرحبیب الله خان په کورکې دننه په دې ښه پوهېده چې دده یو شمیر در باریان، ان دده ورور نصرالله خان او امان الله خان نه غواړي چې د انګلیس او روسیې پرېکړې وه مني نو ځکه یې وایسرای ته په ځغرده وکښل:
(۱۹۰۸ داګست ۱۴) چې دی دې موافقه لیک ته حاضر نه دئ چې د«سنت پترزبورګ» قرارداد او تړون ته غاړه کیږدي.
د ډیورېنډ موافقه لیک ته هم زړه نا زړه وه. د ډېوډ لاین د کتاب له مخې (۱۷۷مخ) انګرېزانو په سرحد کنټرول درلود، ولې بیا هم کابل نه منله چې دا سیمې دې د تل لپاره له افغانسان څخه جلاشي.
کمېشنر روزکیپل په ۱۹۱٦ کال وه لیکل، اوس د بوچر او بولډ تګلاره پایته رسېدلي .
دډیورنډکرښه دسرطان دانه ده اویوه ورځ دپاکستان له جوړېدو وروسته هم ،لیاقت علي خان ، پاچا خان (غفار خان ) ته غوږ وهنه وکړه :
د پاکستان لومړي وزیرلیاقت علي خان په ۱۹۴۸ع کال د مارچ په پنځمه نېټه د یوشمېر وکیلانو ډلې ته په ډېرې بېباکۍ اوبېشرمې ووېل، «ایا پښتون دیوه هېواد نوم دی اوکه دیوه جمېعت نوم ؟
خو باچا خان دده دپوښتنې په ځواب کې ووېل ، پښتون دیوه جمېعت نوم دی ،خوموږ غواړوچې دپښتونستان په نوم دیوه هېوادبنسټ کېدو ...
په ۱۹۷۵کال یوه پنجابي خبریال له ولي خان نه وپوښتل ،په لومړي سرکې مسلمان یې که پښتون،یاپاکستانی ...؟ ولي خان په ځواب کې ووېل،شپږزره کاله کیږي،چې پښتون یم،زرکاله کیږي چې مسلمان اویوازې ۲۱کاله کېږي چې پاکستانی یم .
اوس هغه شمېرپښتانه ان دنیشنل عوامي ګوندغړي داسې څرګندونې کوي چې دپنجابیانوپه اصطلاح دپنجاب ځمري چې پېښور ونیو،له هماغه وخته له افغانستانه بېل شو !؟ ولې حقیقت دادی،لکه راجیودوګرا چې پخپل کتاب Durand,s curse کې یادونه کړې ده ، دوزیر اکبرخان اودرنجیت سنګ دنامتو قومندان هریسنګ ترمینځ چې کومه جګړه په ۱۸۳۸کال داپریل په ۳۰مه دجمرود په کلا کې پېښه شوه،چې په پای کې هریسنګ په ډېرې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بدرنګي ووژل شو.(وګورئ۴۱ مخ )اوبیا کله چې امیر دوست محمد خان دهغه پروړاندې دجهاد اعلان وکړ،خودانګریزانو په ملا ترړنجیت بیا ځان پیاوړی کړ.
انګریزانو له یوې خواسکانو سره اړیکې ساتلې اوله بلې خوا ورته دافغانانودریځ ورته څرګند واوله
کله چې انګریزانوولیدل محمد اکبرخان سکانو ته ماته ورکړه نوبیا برنس دمملې په باغ کې وزیر اکبر خان ته سترګې په لار و،چې دده دلیدلو افتخار تر لاسه کړي .

---

[1]:- ډیود لاین دوه پېړۍ ۱۴۰-۱۴۱ مخونه
[2]:- هملتن انګوس افغانستان ۱۹۰۶ کال لندن ۴۵۲ مخ
[3]:- ډیوډ لاین دوه پیړۍ دهاند ژباړه ۱۷۵ مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ